From
the People of Japan

# مطبوعاتي اعلامیه

## په افغانستان کې د ښځو او جنکیو پر وړاندې د زورزیاتي لپاره د پولیسو د غبرګون د پیاوړتیا په خاطر د جاپان سفارت او UNFPA ګډې هلې ځلې

*دغه د ۲,۲ میلیون ډالرو پروژه به د افغانستان ملي پولیس او نور کلیدي حقوقي فعالان د ښځو او جنکیو پر وړاندې د زورزیاتي پر وړاندې د غوره ځواب ویلو په برخه کې وروزي.*

**کابل، د ۲۰۱۴ کال د مارچ ۱۲مه –** د جاپان سفارت او د ملګرو ملتونو د نفوسو صندوق (UNFPA) نن د ۲،۲ میلیون امریکایي ډالرو د هغې مرستي هوکړه لیک لاسلیک کوي کوم چې د کورنیو چارو له وزارت سره به د ښځو او جنکیو پر وړاندې د زورزیاتي د مخنیوي او غوره ځواب ویني په برخه کې وشي.

اټکل کیږي چې په افغانستان کې ۸۷ سلنه ښځې لږ تر لږه د زورزیاتي د یو ډول فزیکي، جنسي او روحي زورزیاتیو تجربه کړي ده. په داسې حال کې چې ۶۰ سلنه نورو بیا د څو ډوله زورزیاتیو تجربه کړې ده. په وروستیو کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ۲۰۱۲ کال په شپږو میاشتو کې د ښځو او جنکیو پر وړاندې د زورزیاتي ۳۳۰۰ قضیې ثبت کړې دي.

په افغانستان کې د (UNFPA) مرستیال استازي ډاکتر ویلفرید اوچان په دې اړه وایي: «دا شمېرې د دې ایجاب کوي تر څو په افغانستان کې د ښځو او جنکیو پرووړاندې د زورزیاتي د ځوابولو لپاره ملي ظرفیت رامنځته کړل شي. د دا شان زورزیاتیو اصلي لاملین پلرونه، میړونه، ورونه، د خسرګنۍ خپلوان او د کلي خلک دي. کله چې له ښځو سره زورزیاتي تر سره کیږي، نو هغوی دوستانه او د اعتماد وړ خدماتو ته اړتیا لري تر څو مرسته ور سره وشي. د ښځو او جنکیو پر وړاندې د زورزیاتي د مخنیوي او ځواب ویلو لپاره د یوه منسجم، ښه روزل شوي او حساس د قانون پلي کوونکي سیستم جوړول د همدې پروژې له اصلي موخو څخه ګڼل کیږي، تر څو ښځې په افغانستان کې وکولای شي د دې وړتیا ولري چې له زورزیاتي څخه خوندي پاته شي.»

د همدغه نن ورځې د لاسلیک شوي پروژې له لارې به د افغانستان ملي پولیس او نور کلیدي حقوقي فعالان کوم چې د ښځو په وړاندې د زورزیاتي د عمل د مخنیوي، څېړنې او جزا ورکوني مسوول وي د هېواد په اوو ولایتونو کې وروزل شي تر څو د افغانستان او د اسلام د قانون په رڼا کې پر دغې مسالې ښه اداره کړای شي.

د لاسلیک کېدو په مراسیمو کې په کابل کې د جاپان د سفارت شارژدافیر، میو میدا وویل: «ویاړ لرو چې د قانون پلي کوونکي چاروکي د ښځو پر وړاندې د زورزیاتي د مسالي د غوره اداره کېدو لپاره حمایه کوو، تر څو په افغانستان کې د ښځو او جنکیو د حقونو له ساتني څخه ډاډ تر لاسه کړو. جاپان د ښځو د حقونو د ودې لپاره د افغان حکومت هغه هلې ځلې درک کوي کوم چې د یو لړ قواعدو او کړنلارو له لارې لکه په افغانستان کې د ښځو لپاره ملي کاري پلان (NAPWA) او د ښځو پر وړاندې د زورزیاتي د له منځه وړلو (EVAW) قانون تر سره شوي دي، په تیره بیا د ښځو په وړاندې د زورزیاتي د قانون د پلي کولو د راپور خپرورنې څخه درناوی کوي. . د هغوی تطبیق او تعمیل په دغه هېواد کې د ښځو د حقونو د ودې او ساتنې لپاره حیاتي ارزښت لري او همداشان د توکیو د دوه اړخیزه مسوولیت منني په کاري چوکاټ کې د افغان حکومت له خوا د شویو ژمنو یوه برخه ده.

د کورنیو چارو وزارت په وړاندیز دغه دوه کلنه پروژه چې د جاپان حکومت له خوا تمویل شوې په غور، هرات، بادغیس، فراه، بلخ، جوزجان او فاریاب ولایتونو کې به پلي شي. د ولسوالۍ او ولایت په کچه هغه پولیس کوم چې په هغو اداراتو کې کار کوي چیرې چې د جندر اړوند زورزیاتیو قضیې خپل پراوونه وهي، هغه به د پروژې لومړنی تمرکز وي.

نور حقوقي فعالان لکه قاضیان، څارنوالان، حقوقپوهان، د وزارت کارکوونکي او انجوګاني به هم د همدې پروژې د فعالیتونو یوه برخه وي تر څو د جنسیتي زورزیاتیو پر وړاندې یو ملي همغږه شوی ځواک رامنځته شي. د ښځو د حقونو او د ښځو او جنکیو پر وړاندې د زورزیاتي د منفي پایلو په اړه په تر نظر لاندې ټولنو کې د عامه پوهاوني رامنځته کول هم د همدې پروژې یوه برخه ده چې عامه پوهاوي د کمپاینونو له لارې به تر سره شي.

**د کورنیو چارو وزارت اقتباس**

دغه پروژه د (UNFPA) د عمومي هلوځلو یوه برخه ده چې د جاپان له حکومت سره یو ځای په افغان حکومت کې د بېلابېلو ادارو لکه د ښځو چارو وزارت، د عامې روغتیا وزارت او کورنیو چارو وزارت د ظرفیت د جوړولو لپاره رامنځته شوې تر څو د ښځو پر وړاندې له زورزیاتي سره مبارزه وشي.




the Capacity of National Police and other
towards Combating against Women and